خالق رشید

۲۰۱۶/۰۶/۲۸

# د سپیو قدر

لنډه کیسه،

زما پوګاونډی تقاعدي امریکایي ډګروال دی، ښه لوی کور، ښکلی موټر، د کورني کار لپاره تایلندی مزدوران دا ټول لري، خو میرمن نه لري، کلونه مخکې نه پوهېږم چې ترې بېله شوې او که مړه شوې، یوځل مې کله پوښتنه ترې وکړه خو یوازې یوه لنډه جمله یې تر خوله راووته چې.- شي هزګان، هغه لاړه ...
دا څو ورځې د مخه مې لکه چې زموږ افغانانو عادت دی بیا د سهار په لومړیو کتو کې خوله ورغلطه شوه د زوی او لور پوښتنه مې ترې وکړه، چې بیا یې په یوه لنډه جمله کې ځواب راکړ:
- یو زوی لرم بس ... کیدای شي ته یې هم وګورې...
زه او دی هم ډېرنه سره غږېږو ، یوازې کله کله چې کومه نوې خبره د نړۍ او افغانستان په اړه واورې ، بیانو غږ راباندې وکړي چې:
- ننی تود خبر د واورید؟
زه هم په لنډو ځواب ورکړم:
- هو...
سږ د مارچ د میاشتې وروستي لسیزه وه چې یوه ورځ یې ښه فیشن کړی و ، د لوکسي درشی پرځای یې ځانګړی ډول کالي چې ده خپل دودیزکالي بلل آغوستي و، جالبه خو داوه چې د پطلانه پرځای ده هم لکه د میرمنو غونډې مینی ژوب ښکلي لمنه آغوستی وه ، په ډېره خوشحالی یې غږ راباندې وکړ:
- نن مې ۷۲ کالیزه ده ، له خپل زوی سره په میله روان یم...
ما هم ورغبرګه کړه:
- مبارک مبارک، ډېره ښه زیری او ښکلی کالي ، ډیرښه ، زوی دې درپسې راځي؟
- هی بابا، ته نه پوهیږې چې زه زوی موی نه لرم، دغه شارلي دی او زه پرما دی تر زوی هم ګران دی ...
زه تر دغې شیبې پورې خبرنه وم چې دی خپل سپي (شارلي) ته زوی وایي... خدای شته چې لږ ورته کم شوم، هغه یې تربند نیولی، د خپل ژوند او کړو وړو، ۷۲ کاله اوږده مزل پرځای یې له ماسره د هغه د وفاو او کارنامو اوږده کیسه په تلوتلو کې په خورا لیوالتیا سره پیل کړه .
زما ګاونډی د امریکایي پوځ ډګر وال دی ، ډیر بهادری هم لري، په عراق او افغانستان کې یې هم شپې ورځې تیرې کړې دي. ده چې کله د خپل شارلي په اړه تفصیلات را کول نو یویو ځای به د هغه د کارنامو د یادولو په ترڅ کې ویاړن موسکی شو او کله به یې له ویاړه ډکه خندا هم ورسره مله کړه خو کله یې چې په افغانستان کې د هغه په اړه معلومات راپیل کړل ، سترګې یې له اوښکو راډکې شوې او د څو شیبو لپاره یې خپله خبره هم بنده کړه.
دا چې شارلي افغانستان لیدلی و، رښتیا پرماهم ښه ولګید ، ور نژدې شوم ، خپل کین لاس مې پرې راتیرکړ ، سره له دې چې زما له سپیو سره جوړه نه ده ، خو داچې د افغانستان شمال پرې لګیدلی و، رښتیا پرما هم ښه ولګید ،او هغه د لیلي مجنون کیسه را یاده شو چې مجنون به د لیلي د کلي د سپي پر دیدن هم نه مړیده ...
په هرډول د ګاونډي ستونی مې لاهم له غریوه ډک و، خوزه لږ نور هم شارلي ته ورنژدې شوم، ومې غوښتل چې غږ یې واورم، همداسې مې تر پښو تاویده را تاو یده ، خو غږ یې تر خوله نه راووت... هغه څه چې ډګروال ته هم د ده په همدغه ستونزه باندې تل ژړا ورتله... او هغه په رښتیاهم ګونګی و... خو په مندو، تلو راتلو او له خلکو مینه او درناوي غوښتلو کې بیاهم بد نه و .
ډګر وال خپلې کیسې ته دوام ورکړ چې شارلی له ده سره په بوسنیا او عراق هم و، خو اوس لکه ډګر وال غونډې هغه هم زوړ شوی و، خو په اصل کې دی هم څه ساده سپی نه و، نوم یې درلود، رتبه یې درلوده او له هغو تعلیمي سپیو څخه و چې د امریکا په پوځ کې روزل شوی و، په عراق کې یې هم په خپله دنده کې بریالی و، هلته یې لا یو مدال مدال هم اخستی و، دا چې د ډګروال د پوځی ټولګی اړوند و کله چې دوی افغانستان ته واستول شول، دی یې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

هم له ځان سره هلته بوت، لاهم ښه فعال و، په هلمند کي يي د لسګونو قاچاقچيانو کورونه ور خراب کړل، په لسګونو ټينه نشه توکي په بيلابيلو ځايو کي وموندل، سپی نه و، تيار د نشه يي توکونو کاشف او پوه و، چي يوه ذره هم چا نه شوای تر تيرولای ...
د قاچاقو ما فيا د شارلی د کمال په دغه رمز باندي پوه شوي وه، يوی ډلي چي د شارلي له لاسه يي ښه درزونه خوړلی و، يوه ورځ يي مخکي تر دي چي خپله تلاشی پيل کړي د کومي لاری په منځ کي څه پوډرغوندي شی ورته ايښي ول، نه پوهيږم چي څه به وو ، خوچي کله يي تر خولي او سپږمو شول، ځای پرځای ولويد، او بی حاله شو، پوځيانو منډه کړه، چي دموټرله چلونکی او نورو پوښتني وکړي او پلټي چي دا څه شي وو چي شارلی پري يو نا ځاپه بی سده شو، خو هلته اوس د سرو مورچکيو له سرخلاص ډبلي پرته بل څه نه ترسترګو کيدل، سره مرچکي لکه اوړه د اسي ميده شوي هلته ايښي و، داسي ويل کيدل چي همدغو سرو مرچکيو چي کله ده پرسپږمو کش کړي و له حاله ايستلی و، موټرچلونکي او نورو ټولو ويل دامرچکی دی... هغه څه چي موږ يي هره ورځ له خپلی عادي ډوډی سره خورو... خو وروسته ډاکترانو ويل چي نه له مرچکيو سره چي د افغانانو کشف و څه نور هم وو... داچي مرچ وو او که نور څه شارلي يوه يوه نيمه مياشت د ژوو د ډاکترانو تر درملنه لاندي و، خو کله چي لږ سر و حال هم شو، بياهم جوړ نه شو او نه د دي شو چي لوی قا چاق دي په سختو ځايونو لکه د پخوا په شان په نښه کړي، ځکه نو نورد کار نه و... ما پوځ ته وړانديز وکړ چي زه به يي ترڅو ژوندی دی له ځان سره وساتم ... ځکه نو تر اوسه پوري راسره دي، غږ يي اوس هم له خولي نه راوځي ، کله کله غير نورمال حرکتونه کوي او دا هم هغه اغيزدی چي ده ته له افغانستانه وروسته ورپاتي شو ...
يوه خبره چي زه تل د ډګروال په خبرو او خاطرو کي ورته ځيروم دا وه چي ما کله هم له ده څخه د هغو امريکايی پوځيانو پرمرينه څه وانه وريدل، هغوی چي د ده ترقومانده لاندي په عراق او افغانستان کي د هيڅ لپاره وژل شوي وو ... او داسي ښکاريده چي د هغوی ژوند د ده ترشارلي ډير مهم اوقيمتي نه و ...
ما چي د ډګروال دغه غمجنه کيسه د ده د زيږيدو په دغه خوشحاله ورځ وا وريده، ښښه مي تري وغوښته، په دي چي نن د ده د زيږيدو ۷۲ يمه کاليزه وه هغه نن بايد د دومره درني خواشينی احساس نه وای کړی... خو له دي سره سره هم ما بايد ده ته تسل ورکړی وای او د ده د تسل په خاطر مي بايد يوه خبره ورته کړي وای، ځکه مي په لنډو کي ورته وويل چي:
- ته بايد د خپلي زوکړي په دغه خوشحاله ورځ د داسي خواشيني احساس ونه کړي په افغانستان کي دا لويه ستونزه اوسنی نه ده، پرهغه مهال چي موږ ځوانان وو او روسانو پر دغه هيواد باندي يرغل وکړ، روسی پوځيانو هم ښه تعليمافته سپي درلودل، ډيري پري وياړل خو کله به يي چي يوه موده دلته تيره کړه ، بيا به يي نه نوم و ا و نه نښان.... زموږ پلرونه به ويل چي يو مهال د انګريزي سپو هم دلته همدغه حال و ... هغوی ته يي پلرونه وويلي وو چي يو مهال دلته د فارسي اوعربي سپيو هم ښه ورځ په برخه نه وه ...
ډګروال چي د خپلي ميني ژوب ډوله لمني کمربند چي تر خيټه يي را کښته شوی و کلکاوه ، راته وکتل، په خندا شو او راته ويي وويل:
- ته خپه کيږه مه، افغانان ښه خلک نه دي ...دوی له سپيو سره ډيره بده رويه کوي ... هو له سپيوسره ... خو زه باور لرم چي دوی به هم ترهغو ښه ورځ ونه ګوري، ترڅو د سپيو په قدر نه وي پوه شوي ...
ما ورته وخندل:
- ته رښتيا وايي خو نن دي ۷۲ کاليزه مبارکه ... له شارلي سره دي ښاد او خوشاله اوسي...
ادمنتون کانادا ۲۰۱۵


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ